# میاشتنۍ

## جولای ۲۰۲۱

په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ‌الصحې پروګرام



## په غور ولایت کې د ۳٤٥ کورنیو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې



د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ‌الصحې پروګرام د غور ولایت د فیروزکوه ولسوالۍ اړوند «ګنده آب علیا»، «سفلی» او «وسط» کلیو کې د شاوخوا ۳٤٥ کورنیو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې کړې. په پورته ذکر شویو کلیو کې د اوبو رسولو درې لمریزې شبکې جوړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. په دغو دریو شبکو باندې مجموعاً (٥,٩) میلیونه افغانۍ ولګول شوې چې د افغانستان د حکومت د بودجې څخه ورکړل شوې. د اوبو رسولو په دغو دریو پروژو کې د دریو څاه ګانو کیندل، د دریو ذخیرو او د سولرونو لپاره د دوو احاطو جوړول، د څه باندې ٥،٨٠٠ متره اوږدې شبکې غځول، د ١٦٥ نل‌بندانونو، یو شمېر سولرونو او نورو اړینو وسایلو نصبول شامل وو. د یادو شویو پروژو د جوړولو چارو دغه راز د ځایي خلکو لپاره څه د پاسه ٥،٠٠٠ کاري ورځې هم رامنځته کړې.



# په تخار ولایت کې د ۹۹۰ کورنیو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ‌الصحې پروګرام د تخار ولایت د چال ولسوالۍ په نوآباد کلي، د رُستاق ولسوالۍ په سمرغیان او حاجي خواجه کلیو او د اشکمش ولسوالۍ په بیش‌کپه فخرک کلي کې د اوبو رسولو څلور شبکې جوړې او د ځايي خلکو ګټې اخیستنې ته وسپارلې. په یادو شویو پروژو باندې مجموعاً (۱۶ میلیونه او ۴۷۸ زره) افغانۍ لګښت شو چې په تکمیلېدو سره یې شاوخوا ۹۹۰ کورنۍ د څښاک د پاکو اوبو له نعمت څخه برخمنې شوې. په دغو پروژو کې د ژورو څاه ګانو کیندل، د اوبو د ذخیرو جوړول، د سولرونو لپاره د احاطو ودانولو او د څینې نورو اړینو وسایلو نصبول شامل وو. د یادونې وړ ده چې د یادو شویو پروژو د تطبیق پرمهال د ځايي خلکو لپاره دغه راز شاوخوا ۹۷۰۰ کاري ورځې هم رامنځته شوې.



# د ننګرهار په پچیراګام ولسوالۍ کې د ۲۳۰ کورنیو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې پروګرام د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالۍ په سیدخېل عثمان‌خېل کلي کې د اوبو رسولو یوه لمریزه شبکه جوړه او د ځايي خلکو ګټې اخیستنې ته وسپارله چې ورسره د شاوخوا ۲۳۰ کورنیو لپاره د نل پاکې اوبه برابرې شوې. د اوبو رسولو په دغه شبکه باندې څه باندې (۱ میلیون او ۴۷۳ زره) افغانۍ لګښت وشو چې د افغانستان د حکومت له بودجې څخه ورکړل شو. د اوبو رسولو یاده شوې پروژه د ملایان مینې د پرمختیایي شورا لخوا تطبیق شوه او د جوړولو چارو یې د اړوندې سیمې د خلکو لپاره شاوخوا ۱۲۰۰ کاري ورځې هم رامنځته کړې.

